معارف سالم، متوازن و کوشا ضامن رشد و ترقی کشور است

هفته نامه

# معارف

اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۰۷ ماه دلو سال ۱۳۹۵

## د ۴۳ ښوونځيو د زده کوونکو ترمنځ د سوداګريزو طرحو سيالي جوړه شوه

د پوهنې وزارت او تشبث ښوونيزي



او روزنيزي موسسي په ګډه همکاری د کابل، ننګرهار، پروان او باميانو ولايتونو د ۴۳ ښوونځيو د زده کوونکو ترمنځ د سوداګريزو طرحو د سيالي وروستي پړاو ترسره شو.

دغه سيالي د پوهنې وزارت د سرپرست او ښوونيز نصاب د مرستيال وزير ډاکتر اسدالله محقق جهاني، د سوداګرۍ او ماليې وزارتونو د لوړ پوړو چارواکو، د پوهنتون د استادانو او خصوصي سکتور د استازو په ګډون د پوهنې وزارت د ساينس مرکز د غونډو په تالار کې جوړه شوه.

د پوهنې سرپرست وزير ښاغلي ډاکتر اسدالله محقق د يادو سياليو د جوړېدو له امله د تشبث له ښوونيزې او روزنيزې موسسې مننه وکړه، او دغه کړنه يې د مرکز او ولايتونو د ښوونځيو ترمنځ فکري ودې او استعدادونو د غوړولو په برخه کې مهمه وبلله او هيله يې وښووده، چې دغه پروګرامونه د هېواد نورو ولايتونو ښوونځيو ته هم پراختيا ومومي.

د تشبث ښوونيزي او روزنيزي موسسي د يادو څلورو ولايتونو د ۴۳ ښوونځيو ۳۴ زره زده کوونکو ته د تشبث درسي نصاب پروګرام، چې د نړيوالو خصوصي متشبثينو د مرکز لخوا جوړ شوی، وړاندي کړ.

په دې نصاب کې زده کوونکو ته د اقتصاد بازار په اړه کې د سوداګرۍ د ودې او پراختيا، تجربو او نظريو شريکولو په اړه عملي معلومات ورکول کېږي او د عملي ګامونو د پورته کولو لپاره اړينو مهارتونو سمباليږي.

ددې ښوونيز پروګرام له پلي کېدو سره د يادو ښوونځيو ۹۶۶ زده کوونکو سوداګريزي طرحې وليکلې او ترمنځ يې په ۴۱..

(۲مخ)

## تعمير ليسهٔ شهرک صفا افتتاح گرديد

تعمیر جدید لیسه شهرک صفا شهر کابل با اشتراک اسدالله محقق جهانی سرپرست وزارت معارف رییس معارف شهر کابل روئسا، مشاروین، مسؤولین ادارات دولتی، متنفذین قومی، استادان و شاگردان حضور داشتند افتتاح گردید.

در این محفل سرپرست وزارت معارف ضمن سپاسگزاری از اشتراک کنندگان محفل در رابطه به گشایش مکتب متذکره چنین فرمود : وزارت معارف با اعمار مکاتب جدید تعهدات خود را در برابر مردم بخاطر ایجاد یک معارف شگوفان که متضمن سعادت و بهروزی جامعه بشری میباشد در عمل پیاده میکند. آقای محقق از همکاری های کشور دوست جاپان در عرصه فراهم آوری امکانات درسی برای شاگردان قدر دانی نموده و خواهان ادامه همکاری های بیشتر کشور متذکره و کشور های کمک کننده دیگر شد. در بخشی از محفل داکتر سعید منصور رییس معارف شهر کابل گشایش دروازه مکتب را به معنی بستن دروازه های زندان دانسته از مسوولین و بزرگان منطقه خواست تا در حفظ و نگهداشت تعمیر و وسایل درسی مکاتب هرچه بیشتر کوشش نمایند.

تعمیر لیسه شهرک صفا در ناحیه ۱۳ غرب کابل (دشت برچی) موقعیت داشته به صورت پخته و اساسی به مصرف مجموعی ۲۸۹۰۰۰ دالر



امریکایی از طرف موسسه خیریه SVA کشور جاپان در مدت هشت ماه اعمار گردیده است. تعمیر مذکور در یک طبقه اعمار گردیده که دارای ۱۲ صنف درسی، ۴ اتاق اداری، ۵ غرفه مبرز، ۲۱۶ پایه میز وچوکی، ۱۲ پایه الماری،۱۲ پایه میز وچوکی برای معلمان و سایر ملحقات ضروری میباشد.

قابل یاد آوریست در این لیسه ۱۱۰۰۰تن شاگرد اعم از پسر و دختر مصروف آموزش بوده که امور تدریسی شان از سوی ۱۳۳ تن معلم رسمی و ۱۲۵ تن معلم حق الزحمه یی به پیش برده میشود.

## مولوی عبدالعزیز عزیزی به حیث سرپرست ریاست املاک معرفی گردید

در محفلی که به این مناسبت در وزارت معارف تدویر یافته بود دکتور اسدالله محقق جهانی و



معین نصاب تعلیمی و تربیه معلم رؤسای ریاست های مرکزی وشماری از کارمندان این وزارت حضور داشتند. مولوی عبدالعزیز عزیزی را به حیث سرپرست ریاست املاک وزارت معارف معرفی نموده و ضمن ستایش از کارکرد های پرثمر گذشته آقای عزیزی در بست های مختلف موفقیت شانرا از خداوند متعال استدعا کرد.

سپس مولوی عبدالعزیز عزیزی با ابراز سپاسگزاری از رهبری وزارت معارف در رابطه به اعتماد که بالای شان صورت گرفته از همکاران و کارمندان خواهان همکاری های بیشتر شان درعرصه اجرای بهتر امور گردید.

قابل یادآوریست که آقای عزیزی که پیش از این به حیث ریس معارف ولایت بلخ و سمنگان ایفای وظیفه کرده است الی تعین و معرفی رییس این اداره از طریق پروسه ای سی بی آر اجرای وظیفه خواهد کرد.

## د لوګر د کرنې او وترنرۍ انسټیټوټ سره د لمریزو تختو مرسته وشوه

د لوګر ولايت د کرنې او وترنرۍ انسټيټوټ سره د لمريزو تختو او نورو برېښنايي وسايلو مرسته وشوه.

دغه مرسته په کابل ښار کې د کرنې ملي ښوونيز انسټيټوټ کړې، چې ۱۳۰ زره افغانۍ ارزښت لري.

په دغه مرسته کې ياد انسټيټوټ ته ۶ تختې سولر، ۶ بېټرۍ او يو شمير نور اړين برېښنايي وسايل ورکړل شول.

دغه مرسته شوي سولر ۱۵۰۰ واټه برېښنا توليدوي، چې په دې مرستې سره د دغه انسټيټوټ د اداري او تدريسي خونو د برېښنا ستونزه حل شوه.

## سنگ تهداب مرکز آموزشی تخنیکی و مسلکی در پروژه احمد شاه بابا مینه گذاشته شد

درمحفلی که به همین مناسبت تدویر گردیده بود شده بود محترم دکتور اسدالله محقق جهانی معین وسرپرست وزارت معارف، دکتور رحیل محمد فرمولی معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی، دکتور شفیق صمیم معین تعلیمات اسلامی، جمعه محمد عبدالله الکعبی سفیر کشور امارات متحده عربی، نماینده بنیاد خلیفه زاید آل نهیان، بزرگان و اهالی منطقه اشتراک داشتند.

دکتور اسدالله محقق سرپرست وزارت معارف ضمن سخنان شان از کمک های جامعه جهانی به ویژه کشور امارت متحده عربی در بخش معارف قدردانی نموده گفتند: بیان داشتند: کشور ما نسبت به هر بخش دیگر به بهبود و رشد معارف از جمله آموزش های حرفوی و مسلکی نیاز بیشتر دارد که با ایجاد این مرکز نزدیک به ۲۰۰۰ شاگرد میتوانند از آموزش های فنی و حرفوی بهرهمند شده و در آینده باعث شگوفایی میهن شان شوند.

سپس دکتور رحیل محمد فرمولی معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی با اشاره به وضعیت کار و موجودیت کارگران خارجی در کشور افزودند: وزارت معارف بهبود کیفیت روند آموزش را از اساسی ترین شاخص های پلان استراتیژیک خود قرار داده بهبود کیفیت در آموزش های حرفه یی را به معنی جاگزین کردن کارگران داخلی به جای کارگران خارجی دانست. موصوف همچنان از مردم خواست تا با فرستادن فرزندان شان به این نهاد در روند بازسازی کشور سهیم شوند.

قابل یادآوریست این مرکز به هزینه ۵ میلیون دالر امریکایی به کمک مالی بنیاد خلیفه بن زاید النهیان که شامل ۱۵ تعمیر می باشد اعمار می گردد که دارای صنوف درسی، صنوف ورکشاپ ها، اتاق های داری، خوابگاه ای پسرانه و دخترانه و میدان های ورزشی میباشد در ساحه ۱۷ جریب زمین وزارت معارف در محوطه مکتب عبدالروف بینوا تا سه سال آینده اعمار خواهد شد.

سرمقاله:

# رخصتی های زمستانی فرصت خوب برای آمادگی صنوف بالا و تکرار دروس گذشته است

همه میدانند که در شرایط امروزی بدون فراگیری علم ودانش نمیتوان زندگی آرام و مرفه را بدست آورد و لحظۀ چرخ دوران اقتصادی ، سیاسی ، اجتماعی و فرهنگی جامعه خود را تحرک بخشیم، لذا بر هر فرد جامعۀ لازم است تا راه تعلیم و تربیت را در پیش گرفته، فرایض دینی و دنیوی خود رابا فراگیری علم و دانش به سر رسانند و اجر دنیا و اخرت نصیب گردند. حضرت رسول اکرم (ص) می فرماید ترجمه : (فراگیری علم بر هر مرد و زن مسلمان فرض است.) پس برای همه مسلمانان بخصوص اتباع و ساکنین کشور عزیز ما افغانستان که در قرن ۲۱ هم هنوز فرسخها از کاروان تمدن دور مانده ایم لازم است که با انتباه از حدیث پیامبر گرانقدر اسلام شب و روز را یکی کرده بخاطر بدست آرودن علم و دانش که حیثیت مردمک چشم را برای مردم ما دارد، تلاش نمایند. با تأسف در شرایط کنونی که مردمان جهان میخواهند کره مریخ را تسخیر کنند و میلیونها کیلو متر دورتر از زمین قدم بگذراند در کشور ما هنوز هم اثری از صنعت و پیشرفت دیده نمی شود و احتیاجات نهایت ابتدایی مان را از قلم و کاغذ گرفته تا لوازم خانه خوراک و پوشاک را کشور های بیگانه نمایم پس بر جوانان کشوراست تایک لحظۀ هم درنگ نکرده سطح علم و دانش خود را بلند برده با استفاده از تکنالوژی امروزی که همه دروازه علم و دانش رااز طریق وسایل اطلاعات جمعی بخصوص سهولت های انترنیتی برای شان باز است به علوم و فنون دست یافته در آبادی کشور شان سهم فعال گیرند ، همین اکنون فصل سرما فرا رسیده و رخصتی های زمستانی جریان دارد ، شاگردان عزیز کشور باید با والدین خویش در کارهای خانه سهم گیرند و در اوقات فراغت مضامین صنوف بالای را از والدین ، برادران و خواهران کلان شان یاد بیگیرند ، مضامین دینی خود را از ملا امام خویش در مساجد فرا گیرند و همچنان در کورس های زمستانی شامل گردیده، مضامین که به مشکل یاد گرفته می شود مانند ، الجبر ، کیمیا ، بیولوژی ، فزیک از استادان گرآنقدر ما که کورسهای زمستانی دایر کردند یاد بیگیرند . زبان های خارجی را که برای پیشرفت تعلیم و تربیه نهایت ضرور است باید به صورت درست فراگیرند ، اگر شاگردان عزیز در رخصتی های زمستانی برای صنف بالا اماده گی داشته باشند به یقین که درسهای سال آینده را به سهولت به پیش خواهد برد ، همه اعضای خانواده ، والدین و معلمان آنان را دوست خواهد داشت و سرتاج ملت خود خواهد بودند .

شاگردان عزیز : از اینکه هوا نهایت سرد است همه تان باید لباس گرم زمستانی بپوشید تا هوای سرد که امراض زیاد تنفسی را بمیان می آورده باعث مبتلا شدن شما به امراض نگردد و همچنان در هنگام استفاده از محروقات محتاط باشید که سبب تولید گازات زهری و کشنده می شوید و خداناخواسته به صحت و سلامت تان آسیب نرسانید امادگی برای صنف بالا در رخصتی های زمستانی شانس خوب برای بدست آوردن مؤفقیت های سرنوشت ساز در زندگی خواهد بود.

د لومړي مخ پاتې

## د ۴۳ ښوونځیو د...

بېلابېلو پړاونو کې سیالۍ ترسره شوې. له دې ډلې وروستي پړوا ته د کابل د زرغونې، لامعه شهید، خواجه عبدالله انصاري، ام البنین شهید، رحمان مینې، خواجه مسافر د ذکورو، علي احمد پوپل او د ننګرهار ولایت د عبدالوکیل، د پروان ولایت د لیلا صراحت او بامیانو ولایت مرکزي عالي لیسو زده کوونکو لاره پیدا کړه.

د سوداګریزو طرحو د وروستي پړاو سیالي د یو خپلواك پلاوي تر څارنې لاندې، چې د پوهنې، مالیې، سوداګرۍ او صنایعو وزارتونو، د پوهنتون استادانو او خصوصي سکتور استازو پکې ګډون درلود، ترسره شوه، چې تر کره ارزونو او څېړنو وروسته له لسو وروستیو طرحو درې غوره طرحې وټاکل شوې.

له دې ډلې د کابل ښار د رحمان مینې د نجونو لیسې د زده کوونکې روشنا طرحې لومړی مقام، د لامعه شهید لیسې د زده کوونکې هوسۍ عسکري طرحې دویم او د بامیانو د مرکزي لیسې د زده کوونکې شکیبا مشتاق طرحې دریم مقام خپل کړ.

باید وویل شي، چې دغه پروګرام د لیسې دورې د زده کوونکو لپاره دی او د سوداګریزو طرحو د وړاندې کولو او په تولګه کې د سوداګرۍ د پیل او پراختیا په برخو کې مهم فرصت ګڼل کیږي.

د یادولو ده، چې د تشبث ښوونیزه او روزنیزه اداره یوه افغاني غیردولتي موسسه ده، چې په ۱۳۸۹ کا ل کې رامنځ ته شوې او د دموکراسۍ ملي بنسټ په مالي مرسته ځوانانو ته د متشبث کېدلو او د سوداګریزو طرحو د سیالیو له لارې د ښوونیزو او عملي کړنو پرمټ سوداګریز مهارتونه ښیي.

# ۱۳۹۵ کال کې د میدان وردګو د پوهنې لاسته راوړنې

د میدان وردګو ولایت د کابل په لوېدیځ ۳۵ کیلومټرۍ کې پروت دویمه درجه مرکزي ولایت دی. دا ولایت که څه هم له یو شمېر ستونزو او ناخوالو سره مخ دی، خو په ۱۳۹۵ ښوونیز کا ل کې یې ګڼې پوهنیزې لاسته راوړنې لرلې دي.

په ۱۳۹۵ ښوونیز کا ل کې میدان وردګو کې ۲۰ زره زده کوونکي د یوې ښې راتلونکې په موخه ښوونځیو ته روان شول او ۴۵۷۶ تنه چې ۳۸۳ یې نجونې دي، د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو په هیله له دولسمو ټولګیو فارغ شول.

ددې ولایت د ښوونکو د روزنې له مرکز او تخنیکي او مسلکي مرکزونو د ۱۳۰ نجونو په ګډون ۱۰۲۲ تنه فارغ او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې شول. دغه راز په یاد ولایت کې څه باندې ۸ زره کسانو، چې ۵۳۴۶ تنه یې مېرمنې دي، لیک لوست او د خپل ورځني ژوند د ښه والي په موخه حرفه یی زده کړې دي.

ددې ولایت د پوهنې ریاست اړوند اداره کې روان کال ۸۵۱ تنه د آزادې سیالۍ له لارې، چې ۶۲۳ تنه یې ښوونکي، ۱۳۴ تنه اداري کارکوونکي او ۹۴ تنه یې خدماتي کارکوونکي دي، پر دندو ګمارل شوي دي. دغه راز ۳۱۸۰ تنه ښوونکو او اداري کارکوونکو ته ورکشاپونه او ټرېنګونه ورکړل شوي دي.

په ۱۳۹۵ کا ل کې د څه باندې ۹۸،۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د یاد ولایت د څلور بابه ښوونځیو د جوړېدو چارې پیل شوي. دغه راز د څه باندې ۹۹،۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د پنځو ښوونځیونو ودانۍ بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.

همدارنګه ۴۳،۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د درې بابه ښوونځیو ودانۍ او د دوه بابه نورو د احاطې دیوالونو پروژې تر کار لاندې دي.

دغه راز په ۱۳۹۵ کا ل کې د میدان وردګو ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې نړیوال بانک د ۱۱۱ میلیونه افغانیو په مالي مرسته ۵۱ ښوونځیو ته د احاطې دېوالونو د جوړېدو او د اوبو څښلو د یوې حلقې څاه د کیندلو کار پیل شوی دی. له دې ډلې د ۳۵ ښوونځیو چارې بشپړې او د ۱۶ نورو تر کار



لاندې دي.

میدان وردګو ولایت کې د پوهنې له نظام څخه د ولسي خلکو د ملاتړ کچه بېساري ده. په روان کا ل کې د څه باندې ۱۴،۸ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۶ بابه ښوونیزو ادارو ته د ولسي خلکو، د پوهنې د کارکوونکو او پوهنې ریاست په ګډه ونډه نوې ودانۍ جوړې شوي او زر ګونه زده کوونکو ته د خوندي تدریسي چاپېریال اسانتیاوې برابرې شوي دي.

له دې ډلې ۴ بابه ښوونځیو ته په سیدآباد، ۶ بابه ښوونځیو ته په چک، ۶ بابه ښوونځیو ته په مرکزي بهسودو، دوه بابه ښوونځیو ته د بهسود په لومړۍ حصه، مرکز میدانښار کې د چارکي د نجونو ښوونځي، جلرېز کې د مولوي غلام حضرت لیسې، دایمیردادو ولسوالۍ کې دوه بابه ښوونځیو، جغتو کې د کلاندي لیسې او نرخ ولسوالۍ کې د درېو ښوونځیو او پوهنې آمریت ته د ولسي خلکو، پوهنې کارکوونکو او پوهنې ریاست په ګډه مالي ونډه نوې ودانۍ جوړې شوي، چې ډېر شمېر یې بشپړې او یو شمېر یې تر کار لاندې دي.

دغه راز د یاد ولایت په بېلابېلو برخو کې د خلکو لخوا د ۱۶۰ ښوونځیو لپار د نویو ودانیو د جوړېدو په موخه ۳۱۲ جریبه ځمکه هم ډالۍ شوې ده.

ددې ترڅنګ په روان ۱۳۹۵ کال کې د نږدې ۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د میدان وردګو ولایت د ۸۴ ښوونځیو ودانۍ ترمیم او بیارغول شوې دي. له دې ډلې په مرکز میدانښار کې ۱۵ ښوونځي، په سیدآباد ولسوالۍ کې ۱۰ ښوونځي، په چک کې ۱۳ ښوونځي، په مرکز بهسودو کې ۱۳ ښوونځي، د بهسودو په لومړۍ حصه کې ۵ ښوونځي، دایمیردادو کې ۴ ښوونځي، نرخ کې ۱۲ ښوونځي، جغتو کې ۳ ښوونځي او په جلرېز ولسوالۍ کې د ابوبکر صدیق (رض) ښوونځي ودانۍ ترمیم او بیارغول شوي دي. باید یادونه وکړو، چې د یادو ترمیماتو له ډلې د څه باندې ۲،۳ میلیونه افغانیو په ارزښت ۷ بابه ښوونځي د ایشیا فونډېشن لخوا بیا رغول شوي دي.

خلیل الله ستانکزی

# میربچه کوټ کې د محلي زده کړو مرکز د جوړېدو چارې پیل شوې

تر راتلونکو دریو میاشتو د کابل ولایت په میربچه کوټ ولسوالۍ کې د هغو کسانو لپاره، چې د بېلابېلو ستونزو له امله له زده کړو لرې پاتې شوي، د سواد زده کړو په موخه د محلي زده کړو یو باب مرکز جوړېږي. ددې مرکز د بنسټ ډبرې ایښودو په تړاو جوړو شویو مراسمو کې د پوهنې وزارت د سواد زده کړو مرستیال ډاکټر سردار محمد رحیمي، د جاپان د یونسکو ملي فدارسیون استازي، د یادې ولسوالۍ سیمه ییزو چارواکو او قومي مخورو ګډون کړی و.



د میربچه کوټ ولسوالۍ د محلي زده کړو مرکز نوې ودانۍ په راتلونکو دریو میاشتو کې د جاپان د یونسکو ملي فدارسیون لخوا جوړېږي، چې شاوخوا ۵۰ زره امریکایي ډالره لګښت به پرې راشي.

د یاد مرکز نوې ودانۍ به د میربچه کوټ ولسوالۍ د مقام لخوا پوهنې وزارت ته په ورکړل شوې دوه جریبه ځمکه کې جوړه شي، چې دوه درسي ټولګې، د غونډو تالار، اداري خونې او نورې اړینې ښوونیزې اسانتیاوې به ولري.

د پوهنې وزارت د سواد زده کړو مرستیال ډاکټر سردار محمد رحیمي په هېواد کې د بې سوادۍ د له منځه وړلو په برخه کې د سواد زده کړو معینیت پر پلانونو او پروګرامونو خبرې وکړې او په دې برخه کې یې د مرسته کوونکو بنسټونو د مرستو او همکاریو قدرداني وکړه. هغه د جاپان د یونسکو له ملي فدارسیون څخه ځانګړې مننه وکړه، چې په افغانستان کې د بې سوادۍ د له منځه وړلو په برخه کې له پوهنې وزارت سره مرسته او همکاري کوي.

## شنه پاڼه

محمد جان فنا

معرفي د لوی څښتن قدرت د پاره
یمه ژبه د ثنا صفت د پاره
غوړومه شین څادر خپل په اخلاص زه
د ښاپسته ونو ښکلا زینت د پاره
چې وچیږمه د اور دوزخ ته ځمه
اوس چې شنه یمه بوستان جنت د پاره
د څادر لاندې مې سوړ سیوری مدام وي
مسافر ته څو شیبو راحت د پاره
پسرلي کې مې معلومه وظیفه ده
زه راغلې یم د کار خدمت د پاره
په لمن کې ښې خوږې مېوې لرمه
انسانانو ته لذت نعمت د پاره
سمسورتیا مې نتیجه د اتفاق ده
لوی کتاب یم د ولس وحدت د پاره
پرده پوش یم د ګلانو په چمن کې
د حیا، شرف، ناموس عفت د پاره
را نه جوړه زیړه پاڼه شي خزان کې
د دنیا د ژوند (فنا) عبرت د پاره

## زه مکتب ته ځم!

زما د مکتب ساتنه وکړئ، غواړم زده کړه وکړم
پوهنه ترلاسه کړم
غواړم الهي امر پرځای کړم
پوهنه رڼا ده، غواړم دا رڼا ترلاسه کړم
آخر زه هم انسان یم
د الله تعالی مخلوق یم، دا زما حق دئ، چې تعلیم وکړم، زده کړه وکړم
انجنیر شم، ډاکټر شم، معلم شم
غواړم زه هم د نورو په شان تعلیم او تحصیل وکړم د ښه هوسا او آرامه ژوند څښتن شم.

هې! تاته وایم؛ خیر د زړه په غوږو یې واوره خیر که فقیر، ناداره او بې وسه ماشوم یم کله چې ستا اولادونه مکتب ته ځي، ښایسته جامې ورته اخلې، بکسه ورته اخلې، ښایسته بوټان ورته اخلې کمپیوټر او د ژوند ټول ضروریا یې ورته پوره کوې،ګوره ورخطا نشې دا شیان له تا نه غواړم، چې ماته هم دا شیان واخله له تا دا غواړم، چې زما د مکتب د تعمیر ساتنه وکړه، زما د مکتب تعمیر مه خپله ورانوه او مه بل ورته پرېږده، چې وران یې کړي، ځکه په ښېنو معیوب یم، اقتصادي وضعیت مي نهایت زیات خراب دی، په یخنۍ کي مي ساړه کیږي، ګرمۍ جامې او ګرم بوټان نشم اخیستلی، سهار مکتب ته هم کله کله وږی راځم ځکه سهار مو بعضي وخت کور کې حتی وچه ډوډۍ هم نه وي، که د مکتب تعمیر مي نه وي په ګرمۍ کې به سور لمر ته په خاورو کې ناست وم بس همدا درنه غواړم، چې زما د مکتب ساتنه وکړه نور هیڅ نه درنه غواړم

سمیع الله نهضتیار

## علم

علم راه نجات از آتش دوزخ است در پی حصول آن باشید.
علم ثروت است در حراست از آن بکوشید.
علم سرمایه است به آن بیا فزاید.
علم درایت است آنرا بکار بیاندازید.
علم بینایی است از آن پاسبانی نماید.
علم رکن اساسی خدا شناسی است آنرا حتماً بدست بیاورید.
علم، علم قران است از آن آگاهی پیدا نمایید.

ارسالی: احمد رشاد

## سخنان سودمند

مهربانی مادر مانند شاخ گل است که هیچ وقت پژمرده نه میشود.

اساس تمام بدی ها دوست داشتن دنیا است

توانا کاری میکند ناتوان پند می دهد.

تمام طلا های روی زمین و زیر زمین به اندازه یک فضلیت اخلاقی ارزش نه دارد.

گر سنگی به خانه کارگر نگاه میکند اما جرات ندارد داخل شود.

عبادت کنید تا عشق برترس پیروز شود.

از آموختن علم و پیشه عار مکن.

سعادت سبب قناعت است.

سنگین ترین چیز در ترازوی اعمال مومن اخلاق نیکوست خداوند(ج) بدگوی، بدخوی، و بدزبان را دوست ندارد.

محبوبترین کارها نزد خداوند(ج) حفظ زبان است.

دوستی ات را برای کسی که ترا دوست میدارد آشکار کن.

**ارسالی : قدسیه آصفی**

## کیږدۍ

دوی چې زړګی نه لري ، پټ په کې جانان نه لري
په دغه ښار کې خدایږو هېڅوک هم ایمان نه لري
لنډۍ یې نه زده، درخانۍ او ادم خان نه لري
ګل مکۍ نه شته په حجره کې طالب جان نه لري
دلته شنه بوټي هم د تندې مانا نه پېژني
دا نازولي خلک تمه د باران نه لري
ورته رسیږي هماغه ، چې څه یې زړه وغواړي
ډېر بد نصیبه دي چې هیڅ هېله ارمان نه لري
رود یې کوچۍ نه لري ، دښتې یې کیږدۍ نه لري
غریې مرغان نه لري ، کلی یې اذان نه لري
چې په لېدو یې ماسوختن شي فرشتې وریادې
ها څو راڼه ستوري ددې خلکو اسمان نه لري

رالېږونکي: محمد عباس

## صبوری

فراح الدین اکرام

بنا کن رسم دلداری، دل و جان دادنش با من
بده پیغام خود از دور، اشارت کردنش با من
بسوزان هرچه میخواهی ولی دل را نوازش کن
بپا کن آتش عشقت،سیاوش بودنش با من
رها کن دود آتش را ولی یاد مرا هرگز
سیه کن آسمان با دود، نیلی کردنش با من
تو و دل دادن دریا، من و دنیایی از رؤیا
بزن کشتی به طوفانها به ساحل بردنش با من
ز هر دردی دری بگشا به هر آهنگ شادی کن
بزن بر تار و پود دل، مرتب کردنش با من
بمان بامن بگو از دل، دل از دلواپسی کم کن
تو وا کن سفره ی دل را، صبوری کردنش با من

## غزل


ما مې د ژوند هیلې واړه تا پورې تړلې دي
تا د مستو سترګو په ایما پورې تړلې دي
ما دې په موسکی نګاه د زړه هیلې ټومبلې وې
تا د مغرور حسن په ادا پورې تړلې دي
زړه کې مې چې تل د پرهرونو خمیازې وینم
تا یې مګر مراندې په موسکا پورې تړلې دي
ښه دی چې مجنون زړه لا د حسن کیږدۍ پېژني
مینې یې رښتې که په هر چا پورې تړلې دي
ولې به مشکور د التفات د زمانې نه یم
څه افتراګانې یې په ما پورې تړلې دي؟
خدایزده چې ابلیس به د صوفي جرئت ته څه وایي
خپلې ناکردې یې چې الله پورې تړلې دي
غله ګوته په غاښ دي د سیاست سمګلرانو ته
څومره د پېټ پنډې یې په شا پورې تړلې دي؟
چا چې ښکلې هیلې د مقام معبد ته نذر کړې
ښکلې فرښتې یې په هوا پورې تړلې دي

رالېږونکې: مژده

## غلام دستګیر پنجشېري د پوهنې پینځه ویشتم وزیر

ګل آغا احمدي وردګ

اکادمیسن غلام دستګیر پنجشېري د ملك داد زوی دی چې په ۱۳۱۲ هجري لمریز کال د پنجشېر ولایت د رخه په شاداب قابضان کلي کې زیږېدلی دی. ښاغلي پنجشېري خپلې لومړنۍ زده کړې د ۱۳۲۱ او ۱۳۲۷ کلونو په جریان کې د پنجشېر په رخه کې تر سره او د ثانوي زده کړو لپاره د کابل دارالمعلمین ته شامل شوی دی. غلام دستګیر پنجشېري د ۱۳۲۷ او ۱۳۳۴ کلونو تر منځ د کابل دارالمعلمین بشپړ او د لوړو زده کړو لپاره د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځی ته بریالی شو. نوموړي د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځی د ۱۳۳۴ او ۱۳۳۷ کلونو تر منځ بشپړ او د مطبوعاتو په مستقل ریاست کې په دنده بوخت شو. اکادمیسن پنجشېري د دندې د اجرا کولو تر څنګ د ژورنالېستیکي فعالیتونو کورس تکمیل او د ۱۳۴۱ او ۱۳۴۲ کلونو تر منځ یې د احتیاطي ضابطانو ښوونځی هم بشپړ کړ. د مطبوعاتو په مستقل ریاست کې د ښاغلي پنجشېري لومړۍ دنده د انیس په ورځپاڼه کې د هیئت تحریر د غړي په صفت وه او وروسته د نوموړي ریاست د کتابتون مرستیال و ټاکل شو. وروسته له هغه د نوموړي ریاست د نړیوالو اړیکو مدیر او د افغانستان رادیو د تدقیق په توګه و ټاکل شو. وروسته ښاغلی غلام دستګیر پنجشېري د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د خطي نسخو آمر و ټاکل شو. ښاغلی پنجشېري د ثور د کودتا څخه وروسته په ۱۳۵۷ کال کې د پوهنې د وزیر په توګه و ټاکل شو او تر ۱۳۵۸ کال پورې یې دغه دنده مخته یوړه او نوموړی همدارنګه د فواید عامې د وزیر په توګه هم دنده اجرا کړېده. د ښاغلي دستګیر وروستۍ رسمي دنده د افغانستان د لیکوالو د اتحادیې ریاست وو. ښاغلی اکادمیسن غلام دستګیر پنجشېري د یو شمېر آثارو او مقالو لیکوال وو چې د ځینو چاپ شوو کتابونو نومونه یې په لاندې ډول دي:



Weekly Marif Newspaper

A Wholesome, Balanced And Diligent Education System Guaranties The Development And Prosperity Of A Country

Established 2002, Issue No 207, Month January – February

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# له افغان - ترک ښوونځیو سل تنه نجونې فارغې شوې

د افغان ترک ښوونځیو د دولسمو ټولګیو سل تنه نجونو زده کوونکو ته د پوهنې وزارت د سرپرست او ښوونیز نصاب د مرستیال ډاکټر اسدالله محقق جهاني، ښوونکو، زده کوونکو، د زده کوونکو په ګډون فراغت غونډه جوړه شوه.

د پوهنې سرپرست وزیر ښاغلي ډاکټر اسدالله محقق جهاني فارغو شویو زده کوونکو ته د فراغت مبارکي وویله او



په بېلابېلو برخو کې یې له پوهنې وزارت سره د ترکیې له مرستو او همکاریو د مننې ترځنګ هیله وښوده، چې د هېواد نورو ولایتونو ته د افغان ترک ښوونځیو لړۍ وغځېږي.

د افغان ترک ښوونځیو عمومي رییس ښاغلي نعمان اردوغان د یادو ښوونځیو د زده کوونکو له ګټو بریالیتوبونو یادونه وکړه او په دې مرکزونو کې یې د باکیفیته ښوونیزو او روزنیزو خدمتونو پر وړاندې کولو ټینګار وکړ.

د یادولو ده، چې د افغان ترک ښوونځیو په ۱۹۹۵ کال کې افغانستان کې ښوونیز فعالیت پیل کړی او دا مهال د هېواد په شپږو لویو ولایتونو کې ۲۰ بابه ښوونیز مرکزونه لري، چې د ۲۲۰۰ نجونو په ګډون څه باندې ۷۵۰۰ زده کوونکي پکې پر زده کړو بوخت دي.

د یادو ښوونځیو زده کوونکو د ۲۰۰۳– ۲۰۱۶ کلونو په اوږدو کې په نړیوالو المپیادونو کې ۸۷۵ مډالونه ګټلي، چې ۲۷۸ یې د سرو زرو، ۲۸۷ د سپینو او ۳۱۰ یې د برونزو دي.

# از هفتهٔ قانون اساسی گرامیداشت به عمل آمد

در محفلی که به حضور جلالتمآب دکتور اسدالله محقق جهانی معین نصاب تعلیمی و تربیه معلم و سرپرست وزارت معارف، محترم دکتور محمد ابراهیم شینواری معین تعلیمات عمومی، رؤسای ریاست های مرکزی، نمایندگان کمیسیون نظارت پر تطبیق قانون اساسی محترم عبدالرؤف هروی و محترم احمد ضیا فرهمند و جمع کثیری از کارکنان و منسوبین وزارت معارف در تالار (کلوپ) وزارت معارف دایر گردیده بود،

نخست محترم محقق جهانی سرپرست وزارت معارف پیرامون محتوا و مزایای قانون اساسی جمهوری اسلامی افغانستان که یک وثیقه ملی پرای همه اتباع کشور است صحبت همه جانبه نموده و رعایت مواد قانون اساسی کشور را برای ایجاد یک کشور قانونمند از فرایض همه اتباع کشور نیست. هم چنان محترم دکتور محمد ابراهیم شینواری معین تعلیمات عمومی رابطه به موضوع صحبت نموده قانون اساسی کشور را از هر جهت یک قانون مکمل و دموکراتیک خواندند. موصوف همچنان افزود که قانون اساسی کشور که در مطابقت کامل با دین مقدس اسلام تدوین گردیده عاری از هر گونه ملاحظات، تمیز و تمایز بوده و حقوق و وجایب همه اتباع کشور در آن به خوبی تسجیل گردیده است.محفل بادعائیه تحکیم اخوت اسلامی و وحدت ملی در میان مردم آزادیخواه افغانستان و صلح سراسری در کشور خاتمه یافت.

# نجم الدين اخندزاده دارالعلوم کې د کتابتون نوې عصري ودانۍ پرانیستل شوه

د ننګرهار ولایت په نجم الدين اخندزاده دارالعلوم کې د سعودي عربستان په مالي مرسته د کتابتون لپاره نوې عصري ودانۍ جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

پر دې ودانۍ ۲۲۰ زره امریکایي ډالره لګښت راغلی، چې له افغانانو سره د سعودي عربستان د مرستو اداري لخوا ورکړل شوي دي.

کتابتون پر نېږدې زر ټوکه کتابونو سربېره پر کمپیوټرونو، د مطالعې مېزونو، څوکیو، الماریو او محافظتي کمرو باندې سمبال دی.

د ننګرهار د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو مرستیال مولوي ملکیار خورا ګټور وبلله.

هغه له زده کوونکو وغوښتل، چې د




شګیوال له مرسته کوونکې اداري مننه وکړه او په یاد دارالعلوم کې یې د داسې یو پرمختللي کتابتون جوړول مطالعې پر مها ل د کتابتون د وسایلو او تجهیزاتو ساتنې ته جدي پاملرنه وکړي.

# ثبت دارایی های شخصی در وزارت معارف آغاز گردید

برای دفاتر مرکزی وزارت معارف افغانستان توزیع فورم های ثبت دارایی شخصی از سوی اداره مبارزه علیه فساد اداری می خواهد تا تمام دارایی های مامورین عالی رتبه دولتی درج یک فورم شده تا



مبارزه علیه فساد اداری آغاز گردید.

محترم دکتور سید حمیدالله معین مالی و اداری وزارت معارف در رابطه می گوید: «فورمه های یاد شده به هدف جلوگیری از فساد در تمام بخش های این وزارت به منظور معلوم شدن دارایی های آنها توزیع می شود و باید جدی گرفته شود».

هم چنان معین مالی و اداری این وزارت گفتند: «به این ترتیب آنانی که صادقانه کار کرده و لقمه حلال بدست می آورند از کسانیکه درفساد اغشته هستند تفکیک و شناسایی می شوند».

گفتنی است که ادارهٔ محترم از چوکی و موقف دولتی استفاده سو صورت نگیرد.

هم چنان به گفته این ادارهٔ فورمه های خانه پری شده جهت صحت و سقم آن از سوی نهادهای امنیتی و استخباراتی تحقیق و بررسی خواهد شد.

قرار است در فورمه مذکور تمام اموال منقول و غیر منقول با حسابات بانکی، عواید، مصارفات و سایر معلومات بخش مالیه و غیره درج شود.

رهبری وزارت معارف از عموم مسوولان و کارکنان می خواهد تا فورم متذکره را به وقت معینه خانه پری کرده و به مراجع ذیصلاح بسپارند.

# لوګر کې د نیمه لوړو زده کړو له مرکزونو سلګونه ځوانان فارغ شول

لوګر کې ۵۰۵ تنه نجونې او هلکان تر دوه کلونو نیمه لوړو زده کړو وروسته له څوارلسم ټولګیو فارغ او ټولنې ته د خدمت لپاره و پېژندل شول.

دغو فارغانو ته پرون د کابل په ممتاز محل هوټل کې د فراغت مراسم نیول شوي و، چې د لوګر ولایتي چارواکو، د پوهنې مسوولینو، دیني عالمانو، قومي مشرانو، فارغو شویو کسانو او د دوی کورنیو پکې ګډون کړی و.

د فارغانو له ډلې ۳۳۵ تنه له عالي دارالمعلمین، ۸۸ تنه له کرنې او وترنرۍ انستیټوټ، ۷۲ تنه له کانونو انستیټوټ او ۱۰ تنه نور له محمدي دارالعلوم څخه فارغ شوي دي.

له دارالمعلمین څخه فارغو شویو کسانو په دیني، ساینسي، ریاضي، پښتو، دري، انګلیسي او ټولنیزو علومو په څانګو کې زده کړې کړې، چې ۶۵ تنه یې نجونې دي.

دغه راز د کرنې او وترنرۍ انستیټوټ فارغانو د کرنې او وترنرۍ، د کانونو انستیټوټ فارغانو د کانونو د استخراج او د محمدي دارالعلوم فارغانو د دیني علومو په برخو کې نیمه لوړې زده کړې بشپړې کړې دي.

د لوګر د پوهنې ریاست مسوولین د یادو کسانو فارغېدل یوه لویه لاسته راوړنه بولي او د دوی د فارغېدو په ویاړ د لوګر ټول ولس ته مبارکي وایي.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي - غلام سخي محمدي
کمپوز او ډیزاین: بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت